مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکترمحب زغم

۲۰۲۳/۰۳/۱۹

رائځ چې ټول لیکوال شو

د انګریزي طبي کتابونو په لوستلو مې یوه شي ته پام شو. ما عین موضوع په څو مختلفو کتابونو کې ولوسته او ومې لیدل، چې ځینو لیکوالو هماغه موضوع ډېره اسانه بیان کړې او نورو سخته. دغه کتابونه ټول د امریکا او بریتانیا مولفانو لیکلي وو، کتابونه ټول انګریزي ژبو لوستونکو ته لیکل شوي وو، نه د نورو ژبو لوستونکو ته؛ خو سره له دې هم د لیکلو طرز او د مفاهیمو توضیح په کې ډېر متفاوت و. یو نیم کتاب داسې لیکل شوی، چې ما یې په لوستو خوند اخیست، په لوستلو یې نه ستړی کېدم او په مفهوم باندې یې زما سر سم خلاصېده؛ خو د بل کتاب په لوستلو به مې ماغزه ژر ستړي شول، یو نیم پراګراف به مې درې ځلور واړي ولوست ایله به یې پر معنا پوه شوم.
د یوې موضوع د ښه بیان لپاره دوه شیان ضروري وي، یو دا چې لیکوال پخپله پر موضوع ښه پوه شوی او په زور او زېر یې سر خلاص شوی وي، بل دا چې د خپل فکر د بیانولو لپاره د لیکوالۍ مهارت ولري. دې کې شك نشته، چې د امریکا او بریتانیا د پوهنتون استادان او د طبي کتابونو مولفان ټول په خپل مسلك کې پوره پوهه لري؛ نو دا چې ځینو یې خوندور او ښه کتابونه لیکلي دي او ځینو یې نسبتاً سخت او ستومانونکي، دلیل به یې د لیکوالو بېلابېل سبکونه وي.
ځینې کسان د دې لپاره، چې ځان پوه وښیي، په نادرو لغتونو پسې ګرځي. دوی په لوی لاس خپل نثر خرابوي او لوستونکي ته سر خوږی جوړوي. ځینې نور بیا په وینا کې خبره سمه کوي؛ خو په لیکلو کې بیا هغسې نه وي. دوی غواړي په لیکلو کې بل څوك اوسي، په همدې خاطر خبرې ورنه وراني شي.
زمور او د غربي لیکوالو تر منځ یو بنیادي توپیر دا دی، چې غربیان معمولاً مبالغه نه کوي، د مطلقو حکمونو پر ځای د احتمال خبره کوي، د یوې موضوع پر دقت او اهمیت د ضرورت په اندازه ټینګار کوي؛ خو زمور وال معمولاً په خپله خبره له حده زیات تاکید کوي او خپله خبره یو مخ سمه ګڼي. یوه ورځ استاد نجیب الله منلي د کره کتنې په یوه غونډه کې وویل: "حتی په ساینس کې هم داسې قاطع حکمونه نه شي کېدای، چې مور یې د ادبیاتو په اړه کوو".
مثالونه او تشبیه، ساده او روان نثر، په منطق ولاړ استدلال او له مبالغې لرې او بېطرفانه بحث لیکوال په دې قادروي، چې د بحث موضوع په ښه توګه بیان کړي. د "بیلي لف" په نوم د عمومي جراحۍ کتاب په زړه پورې تشبیه ګانې لري. په جراحۍ کې تیوري او عمل دواړه پوره اهمیت لري، د دې اهمیت د بیان لپاره بیلي لف لیکي: "بې له تیورۍ عمل کول داسې دي، لکه نقشه چې درسره نه وي او په بېړۍ کې سمندر ته ورودانګي؛ خو بې عمله تیوري داسې ده، لکه نقشه چې درسره وي؛ خو سمندر ته بیخي لاړ نه شي." پوهاند معصوم په کابل طب کې زمور د فیزیولوژۍ استاد و. هغه به په درس کې داسې مثالونه راوړل، چې شل کاله وروسته اوس هم زما په یاد دي. مثلاً د ناریهوو جنسي حجرې (سپرم) په ۶۴ ورځو کې وده کوي؛ خو د ښځو جنسي حجرې (اووم) په ۱۴ ورځو کې. استاد چې دا خبره راته وکړه، ویې ویل: فارسي کې متل شوی، چې "آش مرد ها دېر پخته میشود" دا متل اساساً په دې مانا دی، چې نارینه به هر کار په زغم سره کوي، وخت ته به وار نه خطا کوي؛ خو استاد په داسې مورد کې وکاراوه، چې هم یې وخندولو او هم یې درس راباندې زده کړ.
څو میاشتې مخکې د پکتیا پېژندنې په سیمینار کې ځینې ژباړل شوي کتابونه چاپ شوي وو. د موضوع په لحاظ دغه کتابونه ټول زما د خوښې وو؛ خو د نثر په لحاظ اکثر یې بې خونده وو. ما په پوره شوق د یو څو کتابونو په لوستلو پیل وکړ؛ خو په یو شواخون مې ایله د هر کتاب پینځه شپږ مخونه ولوستل او بېرته مې په الماریۍ کې کېښودل. د دې کتابونو ژباړنو د مبدا ژبې له اغېزې نه وو وتلې؛ ځکه خو ما ته یې لوستل خوند رانه کړ. زما په نظر د ښې ترجمې لپاره به بهتره وي، چې د جملو پر ځای پراګرافونه ترجمه کړو، هغه داسې چې یو پراګراف به څو ځله لولو، چې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سم يې پر معنا پوه شو، بيا به هغه اصلي متن هېروو او هماغه معنا لکه له خپل ذهنه چې يې ليکو، هماغسې يې وليکو.
استاد نجيب الله منلی وايي: "د ترجمې پر وخت بايد د درېو کسانو کار وکړو، اول بايد د شاګرد په توګه موضوع په غور سره ولولو او ځان پرې پوه کړو، بيا د لېږدونکي په توګه دغه موضوع بل ته ترجمه کړو، وروسته دغې ژباړې ته د لوستونکي له سترګو وګورو، ژباړه ولولو، وګورو چې په معنا يې پوهېږو که نه، خوند ځني اخلو که نه؟"
د ليکلو هنر بايد په ښوونځيو کې شاګردانو ته وروښوول شي. مور چې په هره برخه کې ليکنو ته اړتيا لرو، بايد هر يو ليکوال اوسو، ډاکتر مو هم بايد ليکوال وي، انجينير او قاضي مو هم. دا هله کېدای شي، چې ښوونکي مو شاګردان دې ته وهڅوي، چې خپلې مفکورې او خپل احساسات وليکي، بيا يې نيمګړتياوې وروښيي. استادان بايد زده کوونکو ته ونه وايي چې د "پسرلي، سولې، مور، هېواد" او داسې نورو کليشه يې موضوعاتو په اړه مقالې وليکي. بايد له شاګرده وغواړو، چې فرضاً د خپلو هيلو او خوبونو په اړه دې ليکنه وکړي. د خپلې کورنۍ په باب دې مقاله وليکي. د خپلو خاطراتو او مشاهداتو ليکل داسې کار دی، چې سړی له ليکلو سره روږدی کوي او ليکوال ځني جوړوي. که استادان خپل شاګردان وهڅوي، چې خپلې خاطرې وليکي، دا به هم لويه مرسته وکړي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ